# ویلنټائن ډے؟

ودود هشتنغرے

چـــا را تـــه وئیـل چې مـحبـت سـره دې نـه لګي څۀ
تۀ خبـــر نۀ ئې چې نن ورځ د ,,یـــومِ عشـق،، یـادیږي
نـن دوه مـئیـن او دوه یـاران بـه صـرف مینـه کوي
د نـفـــرتـــونـــو لـــه دنیــا نــه بـه ویـزاره ووسـي
کۀ بـوډاګـان وي کـه نیـمځـالـه کۀ زلمي کۀ پېغلې
صـرف د میـنې لـــه خـوشبـو نــه بـه خوندونـه اخلي

د دې دنیـــا د نــفـــرتـــونـــو او حســـدونـو قیـصې
یـــا د روزګـــار او د بـــازار د جـنـجـالـونـو قیـصې
راځـــه چې پـــرېږدو او د میـــنې ځـــو خبـــرې وکړو

بیـا مې یوه لحظه په خپل ګرېوان کښې سر ښکته کۀ
مـــا وئیـل زۀ جـوړ پـــه رښتیـا چې میـنـه نۀ پېـژنم
ســوچ مې کــوۀ چې یــا اشــنـا زمـا ساده جـانـانـه
پــه داسې حـــال کښې بـــه سړے مـحبت څنګـه کوي
دلتـــه خـو لـوګــه ده افـلاس دے بیـمـاري څومـره ده
دلتـــه تـعـلیـم نشتـــه روزګـــار د انځـرګل کتل دي
دلتـــه د ګـل پـــه شان واړۀ پـــه ډېرانـونـو ګـرځـي
چـــرتـــه تـــامړي،چـــرتـــه هډوکـي او پلاسټک لټوي

د ښـــار یـــو پـــه ګـنـده ویڼ او ډسټ بـنـونـو ګـرځـي
سرې ډوډۍ،زړې کپړې،زړې څپـــــــلۍ لټـــــوي
دلتــه زمـونږه خـوېندې،میاندې په کوڅو کښې ګرځي
زاړۀ زړوکـــي او چېـــررړې چـا نـــه پـــه ســوال غـواړي

اوس خـو لا دا چې بـــازارونـو کښې لـوګـي خوارۀ دي
تـــور دنـدوکـــار دے د بـــارودو او نفـرت دے پـه کښې
آ د ګـــلـــونـــو ښـــار ئې د ښــکـلاګـــانـو بـــانډې
د مـــرګ استـــاذی پـکښې ګـــرځـي انسـانـان قتلوي
د مـحبـــت پـــه ځـــائې خـو اوس د نـفـــرتونو راج دے
خـلـق تـقسیـم دي د مـذهـــب او سیـــاســت پـه نـامـه

دلتـــــه لا چـــــا د مـــحبـــت تـــخـــم کـــرلے نۀ دے
دلتـــه ګـــلـــونـــه د قبـرونـو پـــه څـهـرو کښې لګـي
د وربـــلـــونـــو د ګـــلـــونـــو رواج دلتـــــه کـــم دے
دلتـــه خـو څـوک د عشـق او مینې ګجرې نــه جوړوي
مـــا وئیـل رښتیـــا چې زۀ د میــنې پــه رواج پوه نۀ یم
زۀ خبـــر نۀ یـم چې لا نـن د ,,ویــلــنتـــایـن ډے،، ده



## د انديش بابا په نوم

روحاب ملک

خاکسار منزل کښې په کوڅو ګرځېده
نن مې بابا پسې پښتو ګرځېده

وئيل ئې نشته هغه ګران نشته دے
څه شو نن هغه قدردان نشته دے
ما وئيل دلته هم دې ځائې ګرځېدۀ
بابا مې تا سره يو ځائې ګرځېدۀ

هغې وئيل نن مې ليدلے نۀ دے
هغه خو داسې چرته تلے نۀ دے
ما وئيل راځه علم خانو کښې به وي
چرته مکتب په مدرسو کښې به وي
لارو کوڅو کښې ځائې په ځائې ګرځېدُو
مونږ سرګردانه ليونۍ ګرځېدُو

په دې لټون کښې ورځې شپې تېرېدې
هفتې څه مياشتې تېرېدې تېرېدې
خبره راغله، راغله کال له راغله
څه مايوسي غوندې مې خيال له راغله
سترګې مې پټې شوې پرکاله شومه
بابا مې اوليدۀ خوشحاله شومه
په خوشبويانو په ګلونو کښې ؤ
د جنتونو په باغونو کښې ؤ
ورسره خوا کښې باچاخان ناست ؤ
يو ايمل خان بل درياخان ناست ؤ
زما په خيال دا يو رحمان بابا ؤ
دا بل سپين روبے خوشحال خان بابا ؤ
دا ورسره يو غني خان ښکارېدۀ
اجمل حمزه او علي خان ښکارېدۀ
راهي صېب ناست ؤ پير ګوهر ناست ؤ
هر يو پښتون د لر او بر ناست ؤ
راج ولي صېب ؤ يو اعظم صاحب ؤ
يو بل هم ؤ څوک محترم صاحب ؤ

د خوشحالۍ نه مې بائېدلې اُښکې
زما په مخ را ورېدلې اُښکې
بابا مې راغے زما خوا له راغے
ځان ته ئې راجوخته کړمه ماله راغے

وئيل ئې مۀ ژاړه بچۍ مۀ ژاړه
اُښکې که پاکې ليونۍ مۀ ژاړه

د مرګ چپه وه ناساپې راغله
زمونږ ترمېنځه جدائي راغله
خو منزل يو،يو ارادې دې زمونږ
مقصد مو يو، يو شان جذبې دې زمونږ

پښتو وه څنګه را ته حال اوايه
وه په عروج که په زاوال اوايه
ما وئيل ښه وه په لمبو ګرځېده
په تېرو څوکو د ازغو ګرځېده
وئيل ئې ټيک ده حوصله ئې تۀ ئې
آواز ئې تۀ، روحاب نعره ئې تۀ ئې
په دې ګلشن کښې به نغمې وائې تۀ
اوس به د امن ترانې وائې تۀ